د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د تصاويبو مديريت
د (متحدالمآلونو) څانګه

نېټه: ۲۴/ ۱۱/ ۱۴۴۴ هـ ق
مصادف: ۲۳/ ۳/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د متحدالمآل ګڼه: ٥٦

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۹) مورخ ۱٤٤٤/۱/۲۷هق په تعقیب لیکو:

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا د مجلس مورخ ۱٤٤٤/۱/٥هق مصادف۱٤۰۱/٥/۱۲هش د هدایت مطابق، بعضي موضوعات د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوي وو، د یادو موضوعاتو څخه یوه موضوع د وکیل مسخر د تعین په باره کې وه چې په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام هدایت د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۹) مورخ ۱٤٤٤/۱/۲۷هق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی دی چې بیا وروسته د کندهار ولایت استیناف محکمې د مرکزي دارالافتاء څخه استهداء کړې وه او لیکلي یې وو چې آیا قاضي کولای شي چې د هغه چا له طرفه وکیل مسخر ودروي چې د قاضي تر ولایت لاندې ساحه کې نه وي؟ په اړه یې د مرکزي دارالافتاء لخوا فتوی نمبر(۷۹٥) مورخه ۱٤٤٤/۲/۹هق ترتیب او سلسلتاً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شوې وه، عالي مقام یې په اړه مرکزي دارالافتاء ته داسې هدایت کړی وو: ((دغه فتوی ستري محکمې ته واستوئ او د هغوی نظر ښکنبي واخلئ وروسته یې د نظر سره یو ځای راولیږئ.))، د مشرتابه محترم عالي مقام د پورته تحریر شوي هدایت مطابق، یاده فتوی د ستري محکمې محترم مقام ته رارسېدلې وه چې په اړه یې د ستري محکمې نظر د ستري محکمې د مقام د دفتر رياست د مکتوب نمبر (۲۰۲) مورخ ۱٤٤٤/۷/۱٤هق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شو، د مشرتابه محترم عالي مقام یې په اړه د حکم نمبر(۲۹۲۳) مورخ ۱٤٤٤/۸/۱۸هق په توسط داسې هدایت وکړی: ((وکتل سو:

وعلیکم السلام ورحمت الله برکاته!

وبعد: تاسو یو هیئت ته دنده وسپارئ چې د امام اعظم ابوحنیفه او امام شافعي رحمهما الله د هر یوه مذهب د وکیل مسخر په هکله جزئیات د مؤثقو کتابونو څخه راټول کړي او د نهائي تصمیم لپاره یې مونږ ته راولیږئ))

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د پورته تحریر شوي هدایت مطابق موضوع د پوره دقت او څېړلو څخه وروسته بیا ځلي د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شوه او په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر(٤۰۷۹)مورخ۱٤٤٤/۱۱/۱۹هق مصادف۱٤۰۲/۳/۱۸هش په اساس هدایت کړی دی چې د یاد حکم ټکي په ټکي متن په لاندې ډول دی:



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

((وکتل سو:

وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته!

وبعد: فعلاً دي د امام ابوحنیفه (رحمه الله) د مذهب مطابق عمل کیږي، د امام شافعي (رحمه الله) پر مذهب باندې د عمل کولو زمینه نه ده برابره.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د محاکمو د عالي اداري د مکتوب نمبر (۸۲بر۲۵) مورخ ۱۴۳۹/۹/۲۳هش مطابق د وکیل مسخر د درولو د اصولي مراحلو د طی څخه وروسته د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د پورته تحریر شوي هدایت په نظر کې نیولو سره اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af